# د ماشوم په ښوونه او روزونه کې د کیسو اغېزې


لیکوال: **پوهنیار عظمت الله ضمیري**
د بدخشان پوهنتون، ادبیاتو پوهنځي پښتو څانګې
برېښنا لیک پته: Azmatullahzamiri76@gmail.com
اورکید پېژند پاڼه: https://orcid.org/0009-0006-1296-0959

لیکوال*: **پوهنیار محمد طاهر جار**
د بدخشان پوهنتون، ادبیاتو پوهنځي پښتو څانګې
برېښنا لیک پته: tahirzaar5@gmail.com
اورکید پېژند پاڼه: https://orcid.org/0009-0000-6508-7977



## لنډیز

کیسه د تاریخ په اوږدو کې د خلکو د غوښتنو ، هیلو ، تجربو ، خیالونو او فکرونو هغه ویل شوي یا لیکل شوي څرګندونې دي چې نورو نسلونو ته په زړه پورې او له پند خوند څخه ډکې وي انسان زده کړې ته لیواله دی او د کیسې لپاره یې لیوالتیا په لومړیتوب کې وي، نو دا د کیسې غوښتنه ده. ماشوم په دې هڅه کې وي چې کیسې واوري او تر ډېرې اندازې پورې پکې ګډون وکړي د دې ټکي اصلي لامل دا دی چې کیسه د دوی لپاره یوه نوې ژبه ده. پورتنۍ ځانګړتیاوې د کیسو او د کیسو د ویلو ذهني او رواني ارزښت بیانوي چې دا اغېزه له مخکې وختونو څخه تر اوسه پورې څرګنده ده ، نو دا اغیز لکه څرنګه چې ماشوم د کیسې او نړۍ په اړه ژوره اغېزه لري فرانسوی مشهور لیکوال شیلر، د کیسې د ارزښت په اړه ویلی دی: ( زما د ماشومتوب کیسې زما د ژوند حقیقتونو څخه ډېر څه زده کړل)



**بنسټیز ویي:** روزنه ، ښوونه، کیسه ،ماشوم ، اغېزې.


Azmatullahzamiri76@gmail.com

# The Effects of Stories in Children's Education and Upbringing

Author [*] **Azmatullah zamiri**
Pashto Department, Faculty of Literature, Badakhshan University, Badakhshan, Afghanistan
Email Azmatullahzamiri76@gmail.com
Orcid https://orcid.org/0009-0006-1296-0959

Author **Mohmmad Tahir Jaar**
Pashto Department, Faculty of Literature, Badakhshan University, Badakhshan, Afghanistan
Email tahirzaar5@gmail.com
Orcid https://orcid.org/0009-0000-6508-7977

## Abstract

Throughout history, stories have been oral or written expressions of people's needs, hopes, experiences, imaginations, and thoughts, conveyed in ways that are engaging, instructive, and rich in moral insight for subsequent generations. Human beings possess an inherent inclination toward learning, and their interest in stories occupies a primary place; this very inclination constitutes the demand for storytelling. Children, in particular, strive to listen to stories and, to a considerable extent, to participate in them. The principal reason for this tendency is that stories represent a new and meaningful language for them.These characteristics highlight the cognitive and psychological value of stories and storytelling, an influence that has been evident from earlier times to the present. Accordingly, just as stories exert a profound impact on children and their understanding of the world, this influence has long been acknowledged. The renowned French writer Schiller, commenting on the value of stories, stated: *"The stories of my childhood taught me more than the realities of my life."*

**Keywords:** Upbringing, Education, Story, Child, Effects.

*

# سریزه

څرنګه چې د ماشوم په اړه په ټولو برخو کې ډېر لیکنې شوې ،نو ما هم د( د ماشوم په ښوونه او روزنه کې د کیسو اغېزې ) تر عنوان لاندې په دغه موضوع کار وکړ او دغه موضوعات مې په لنډه ډول تشریح کړل د ماشوم زده کړې، ښوونه او روزنه ، کیسه ، ماشوم ته کیسه کول او په ماشومانو باندې د کیسو اغېزې ، ښوونېزې او ټولنېزې اغېزې مې تر بحث لاندې ونیولې چې کیسه د ماشوم د ژوند په کومو برخو کې اغېزې لري، د کیسو اغېزې زیاتې دی چې د ځینو یې یادونه کوو ، کیسه د ماشوم تخیلی ځواک پیاوړي کوي ماشوم د کیسو له لارې خپل چاپیریال سره اشنا کیږي کیسې د ماشومانو سره په ټولینزو او ښوونېزو اړیکو په پېژندلو کې مرسته کوي د وینا او بیان ځواک یې پیاوړي کوي ،د اخلاقي ارزښتونو وده ،د علم ارزښت څرګندول او د جهل او ناپوهۍ له لاسه ورکول ، د ژوند له ستونزو څخه ځان خبرول ، د تجربو او معلوماتو پراخول او د خپل فرهنګ او تاریخ په اړه د معلومات لاس ته راوړل دي .

## د ستونزې بیان

په پښتو ادبیاتو کې د ماشومانو ادبیاتو ته ډېر کار نه دی شوی، د ګوتو په شمار لیکوالو د ماشومانو په ځینو اړخونو باندې رڼا اچولی ده په پښتو ژبه او ادب کې د نورو ګاونډیو ژبو په پرتله ډېر لږ د ماشومانو ادبیاتو ته کار شوی په ځانګړي توګه د ماشومانو د کیسو په ښوونېز ، روزنېز فرهنګی ، تاریخي او ټولنېز اړخ باندې مستقل اثار نه دی لیکل شوی زموږ هڅه دا وه ، تر څو د لیکوالو ورته پام شي ځکه چې ماشوم په هره برخه کې روزنې او پالنې ته ضرورت لري که چېرې د څېړنې، تالیف او ژباړې په برخه کې د ماشومانو ادبیاتو ته کار وشي ، نو دا به د دوي په زده کړو کې بنسټیز رول ولري .

## د څېړنې پوښتنې

اصلي پوښتنه: کیسه څه ته وایې او د ماشوم په ژوند باندې کومې اغېزې لري ؟

فرعي پوښتنې:

۱. ښوونه او روزنه څه ته وایې؟

۲. د ماشومانو کیسې باید کومې ځانګړنې ولری؟

۳. ماشومانو ته څرنګه کیسه ولیکو ؟

## د څېړنې ارزښت

د دغه موضوع ارزښت په دې کې دی چې دا څېړنه به نور لیکوالان هم وهڅوي چې په دې برخه کې نورې څېړنې هم وکړي چې په دې سره د ماشومانو لیوالتیا له مطالعې سره ډېریږي د وینا او بیان

ځواک یې پیاوړي کېږي د کیسو د اتلانو څخه د اتلولۍ درسونه اخلي او په راتلونکي کې ترینه یو ښه شخصیت وړیدای شي.

## د څېړنې موخې

اصلي موخه: د ماشومانو په ژوند کې د کیسو اغېزې بیانول.

فرعي موخې:

۱ـ د کیسو پر لغوي او اصطلاحي معنی پوهېدل.

۲ـ ښوونه او روزنه پېژندل.

۳ ـ کیسو سره د ماشومانو اشنا کول.

## د څېړنې شالید

د ماشومانو په ښوونه او روزنه کې د کیسو اغېزې تر سرلیک لاندې څېړنه تر اوسه د لیکوالو له خوا په مستقل ډول نه ده څېړل شوې او که چېرې څېړل شوي وي هغه هم ډېر کمې لیکنې دی ځکه چې ده د ماشومانو په ژوند کې ډېره مهمه موضوع ده هغه لیکنې چې دغه موضوع پکې په ډېره کمه اندازه راغلې ده هغه لیکنې دا دی : ګل آغا احمدي له کیسو اوریدلو سره مینه او علاقه مصورمجله په ۱۳۸۸ هـ ش کال کې د لومړی کال په څلورمه ګڼه کې چاپ کړي دی او اجمل پسرلي په ۱۳۹۰ هـ ش کال کې ماشومانو ته د کیسو لیکل چل تر عنوان لاندې لیکنه په مصور بنسټ کې خپره کړې ده ، غوټۍ خاورې په ولسي ادبیاتو کې د کوچنیانو د ادبیاتو آغېزې تر سرلیک لاندې په ۱۳۹۶ هـ ش کال کې په کابل مجله ۱۲-۱۱ګڼه کې ، طاهره جعفر قلیان ادبیات کودک په ۱۳۷۷هـ ش، (یو ماشوم یوه نړۍ) دغه کتاب دریو لیکوالو په ګډه لیکلي محب الله زغم ، آناهیتا روهي ، نعیمه غني دغه کتاب په ۱۳۹۳ هـ ش کال کې د مصور بنسټ له خوا چاپ شوي دي ، عبدالغفورلیوال د ( د ماشومانو له پاره کیسې او بوختیاوې ) د اریک ګرځنده کتابتونو ادارې له خوا په ۱۱۳۸۱هـ ش کال کې چاپ شوي دي ، محمد فاضل شریفي د ( ادبیات کودک در افغانستان ) په ۱۳۸۸ هـ ش کال د علومو اکاډمۍ له خوا چاپ شوي دی او ځینې نورې لیکنې شوې چې د دې موضوع سره په اړیکه کې معلومات لږ دي.

## د څېړنې میتود

د دغې څېړنې د لیکلو پر مهال له تحلیلي - تشریحي میتود څخه ګټه اخیستل شوې او د څېړنې ډول یې کتابتوني دی چې اکثره له لومړي لاس کتابونو،علمي څېړنیزو مقالو او ددې ترڅنګ د اړتیا پر مهال له نورو ځانګړو اخځلیکونو هم ګټه اخیستل شوې ده.

## د څېړنې موندنې

کیسې د تاریخ په اوږدو کې د خلکو، غوښتنو، هیلو، تجربو، خیالونو او فکرونو هغه لیکل شوي یا ویل شوی ځرګندونې دی چې نورو نسلونو ته په زړه پورې او له پند څخه ډکې وي د ماشوم په ژوند باندې کیسې ښوونیزې او ټولنیزې اغیزې لري د ماشوم پر ذهن د لوبو او کیسو اغېزه یوه ځرګنده خبره ده چې د ماشوم ادبیات زیاتره پر کیسو راڅرخي. د پلټنو په ترڅ کې دا ثابته شوې ده ، چې له ماشومتوبه حتی د پیدایښت له وخته ، ماشومانو ته د کیسو لوستل ، دکیسو اورول او له ماشومانو سره لوبې د ماشوم په سالمه ذهني روزنه کې موثره ونډه لري. دا چې ماشومانو ته کیسې وایو او یا له هغوی سره د لوبو په ترڅ کې د الفبا له تورو وړې وړې کلمې جوړوو، نو دې ته باید پام وکړو. چې دا بوختیاوې یوازې لوبې نه دي، بلکې هره کلمه او هر لفظ د ماشوم لپاره یوه زده کړه ده. له ماشوم سره لوبې د ماشوم د زده کړې تجربه ډیروي. پر ځان یې متکي کوي او جرات یې زیاتوي. همداسې ماشوم کولای شي خپلې زده کړې لوبې له خپلو همزولو سره تکرار کړي او په خپله د خپلو زده کړو لوبو پایلې ووینې.

### د ماشوم زده کړه

۱- د ماشـــوم تعلیم د هغه په غوږ کې له آذان کولو پیل کیږي کوم چې د خپل خالق طرف ته یي متوجه کوي ، او کله چې په خبرو راشـــي هغه ته به د (لا اله الا الله ) کلمې تعلیم ورکول کیږي .

۲- بیا به د (الف) ، باء) توري، حرکات ، کلماتو د زده کړې لپاره د یو ماهر قاري چې په تجوید باندې پوره حاکمیت ولري د نوراني قاعدي تعلیم ورکړي، پخوا بغدادۍ قاعده په درســي نصــاب کې مروج وه او اوس مهال په اکثره اسـلامي هیوادونو کې نوراني قاعده رواج لري نوراني قاعده د قرآنکریم د تجوید پر اساس ترتیب شوې ده ،چې ماشون د تجوید او صحي تلفظ سره بلدوي.

۳- د قرآنکریم زده کړه: قرآنکریم د الله سبحانه وتعالی هغه سپېڅلی کتاب دی . چې د فضیلت او اهمیت دپاره به دلته یوازې دومره ووایم چې نن عصــر کې نه پیغمبر شــته او نه هم وحې، ځکه چې د پیغمبرۍ او وحې سلسله د جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم په رسالت سره ختمه شوې ده نن عصر د الله تعالی او د مخلوق تر مینځ د ارتباط وسـیله یوازې قرآن او د رسـول الله صـلی الله علیه وسلم سنت دي .

-۴- د قرآنکریم د زده کړې تر څنګ د ضــروري شــرعي علم تعلیم ورکول کوم چې مخکې مو اشـاره ورته وکړه د شـرعي علم تر څنګ د عصـري علم کوم چې د انســان د ژوند ضـرورت دی (احمدي،۱۳۹۵: ۳۲)

## دښووني تعریف

دښووني لغت د ( (Instructionکلمې معادل دی او د ور زده کولو په مانا ده، یا دا چې زده کول، ور زده کول، پوهول او یا یو چاته یو څه ور زده کول ښـوونه یا تعلیم له داسـې هڅې او کوښـښ څخه عبارت دی چې ښـوونکی یې زده کوونکو ته د پوهې او اطلاعاتو د لېږدولو لپاره ترسـره کوي، یا دا چې ښوونه د پوهې مهارتونو او باورونو د لېږدولو لپاره د داسې تدابیر و نیول دي چې د هغوی سـموالی او اغېزمنتوب د وګړیو لـه تیر و تجربو. یو ځـای پـه ثبوت رسـېدلې وي(. ( درمل،۱۳۹۵: ۱۳)

## د تربیت یا روزنې ، تعریف او مفهوم

تربیت یا روزنه په لغت کې د نشـو و نما ورکول زیاتول، مرغوب یا قیمتي کولو په معنی راغلی ده. دغه کلمه د ( (Educationمعادل ویل کیږي ،چې دوه ریښې لري یو یې ) پراخه ده او د حیواناتو په هکله هم پکار وړل کیږي او معنی یې روزنه ورکول، له بیرون نه شکل او جوړښت ورکول تغذیه او پالنه ده. که څه هم ځینې وختونه په غلطه توګه د غیر انسان لپاره استعمالیږي مګر غوره دا ده . هغه یوازې په دقیقه معنی چې د انسـاني تحول او بدلون څرګندوی دی وکاروو. په دې معنی کې د انساني تربیت څخه منظور دا دی چې انساني ګوهر او هغه ارزښتونه چې نوموړی د موجوداتو تر منځ متمایز او جلا کوي پاملرنه وکړو. ( ذکي،۱۳۹۴: ۲۷)

## کیسه څه ته وایي او څنګه رامنځ ته کیږي ؟

کیسې د تاریخ په اوږدو کې د خلکو د غوښتنو ، هیلو ، تجربو ، خیالونو او فکرونو هغه ویل شوې یا لیکل شوې څرګندونې دي چې نورو نسلونو ته په زړه پورې او له پندو خوند څخه ډکې وي. په افغانستان کې کیسې ته (افسانه) ، (نکل) ، (قیصه)، (داستان) او (حکایت) هم وایي او ګڼ خلک معمولاً د ژمي له خوا په کلیو او ښارونو کې، کله چې د تنرونو یا صندلی ګانو تر څنګه راټول شي، نو د ژمي اوږدې شـپې په خوږو کیسـو لنډ وي. اناګانې، او نیکونه یا پلار و مور خپلو ماشـومانو ته ښکلې کیسې اوروي او ماشومان د کیسو په اوریدو د کیسې په هکله فکر کوي، ځان د کیسې د اتل پر ځای ګڼي او ورو ورو د خوب دنیا ته ځي. کیسـې زموږ په هیواد کې له ډېر پخوا څخه دود دي چې په لیکلو او شفاهي ادبیاتو کې ځانګړی ځای لري. هره ټولنه ځانته بـیـلـې بیلې کیسې لري، چې د همغې ټولنې له دود و دستور، ورځني ژوند او تاریخي اشـخاصو سره مناسبت ولري. خو یو شمیر کیسې داسې هم شته چې د نړۍ په ګڼو ولسونو کې یو ډول دود دي. کله چې په یوه ټولنه کې خلک د ښه ژوندون په تمه ورځې او شپې تیر وي او غواړي له شر او بدیو څخه وژغورل شي د ظلم او ناروا لاسونه ورڅخه لنډ شي، په سوله، مینه او خوشالۍ کې ژوند وکړي، نو د همدې لپاره سوچ او فکر کوي. په خپلو ذهنونو کې داسې اتلان را منځ ته کوي چې کولای شي له شر

مجلهٔ علمی-تحقیقی پامیر / - دپامیر علمي څېړنیزه مجله - Pamir Academic & Research Journal

او بدی سره جګړه وکړي، ظلم او ناروا له منځه یوسي. وروسته بیا همدغه اتلان او د هغوی ښه کارونه په افسانو کې رانغاړي او کیسې ورڅخه جوړوي، دا کیسې بیا نسل په نسل او سینه په سینه رالیږدیږي او کله کله ویونکو او راویانو له خوا لږ او ډیر بدلونونه هم په کې را منځ ته کیږي. د دې لپاره چې کیسې د اوریدونکو په تیره بیا ماشومانو لپاره په زړه پورې وي، او دوی وکولای شي ورڅخه خوند واخلي، نو د کیسو جوړونکي هڅه کوي په خپلو کیسو کې فوق العاده پیښې او حیرانونکي حوادث ځای کړي. مثلا د کیسې اتلان ډیر زړور ، ځواکمن او ښکلي وي، کله خود جادوګر و ، ښامارانو ، دیوانو، پیریانو او ښاپیریو له خوا داسې کارونه تر سره کیږي چې اوریدونکی حیرانوي. په کیسو کې دیوان ، ظالمان او بد خلک هم وي، چې هغه بیا د پېښو په بهیر کی د کیسو د اتلانو په لاس له منځه ځي. کله کله په کیسو کې حیوانات (ځلوربول) ، مرغان او نور ژوي خبرې کوي او د انسانانو په څیر کولای شي وغږیږي او فکروکړي، په ځینو نورو کیسو کې غرونه ونې سیندونه ستوري، لمر او سپوږمۍ او ځینې نور شیزونه هم خبرې کوي چې دا د ماشومانو لپاره په زړه پورې وي. دا چې ولې په کیسو کې داسې کیږي علت یې دا دی چې انسانان په عادي ورځني ژوند کې نه شي کولای فوق العاده او حیرانوونکي کارونه وکړي ، ځکه خو د خیال او فکر په مرسته په کیسو او نکلونو کې د خپلو زړونو غوښتنې او رامنځ ته کولو کې انځوروي. هغه ماشومان چې د کیسو له قهرمانانو سره مینه پیداکوي، غواړي دوی هم د کیسو د اتلانو په شان ښه هوښیار ، زړور او ځواکمن و اوسي، له بدو او ناوړو کارونو څخه ځان وژغوري او نور هم سمې لارې ته راوبولي، کیسې ماشومان له پخوانیو،زمانو تاریخ او ټولنپوهنې سره آشنا کوي. کیسې د یوه ولس ادبیاتو ، فولکلور تاریخي اسنادو او پیژندنې په اړه تر ټولو ښه وسیله ده . ( لیوال،۱۳۸۱: ۴-۶)

## له کیسو اوریدلو سره د ماشوم مینه او علاقه

ماشومان له کیسو اوریدلو سره ځانګړې مینه لري او په ډیرې علاقې سره د کورنۍ د لویانو څخه اوري کیسې ماشوم ته آرامتیا بخښي او د خوب پر مهال پرې خوب راولي. کله چې ماشوم له خپلو مشرانو څخه یوه کیسه واوري نو د هغه د اوریدلو غوښتنه په وار وار کوي. کله کله خو ماشوم د خپلې آرامتیا او شوخی څخه د کښیناستلو شرط کیسه ګڼي ماشوم د کیسو له اوریدو څخه په غیر مستقیم ډول زده کړه کوي، اوریدو ته لیوالتیا ښرګندوي او د کیسې تسلسل ته یې د اوریدلو تلوسه په ټوپونو راځي کله کله داسې هم کیږي چې د کیسې خلاصون په صورت کې ماشوم د خفګان او غصې څرګندونه کوي او له کیسه ویونکي څخه غواړي چې بیا بیا ورته کیسه وکړي. کله کله داسې هم کیږي چې ماشوم د کیسې د اوریدلو پر مهال له کیسه لوستونکي څخه د ځینو هغو پیښو او مفرداتو په هکله مختلفې پوښتنې وکړي چې د کیسې په لړ کې یې اوري نو له همدې کبله

ښايي ماشومانو ته داسې کیسې واورل شي چې ښوونیزې وي، د دوی له سويې سره برابرې په زړه پورې له خوږو الفاظو ډکې او له بې ځايه مبالغو څخه خالي وي. ( احمدي،۱۳۸۸: ۳۳)

## د ماشوم پرذهن د لوبو او کیسو اغېزه

دا چې دا یوه څرګنده خبره ده چې د ماشـوم ادبیات زیاتره پر کیسـو راڅرخي ماشـوم ته د کیسـو لوستل له کومه وخته را پیلیږي دا د ماشوم په کورنۍ مور او پلار پورې اړه لري . خو ډیری خلک څلور کلنۍ د کیســـو د پیل لپاره مناســـب ګڼي. د پلټنو په ترڅ کې دا ثابته شـــوې ده ، چې له ماشــومتوبه (( حتی د پیدایښــت له وخته ))، ماشــومانو ته د کیســو لوســتل ، دکیســو اورول او له ماشومانو سره لوبې د ماشوم په سالمه ذهني روزنه کې موثره ونډه لري. دا چې ماشومانو ته کیسې وایو او یا له هغوی ســـره د لوبو په ترڅ کې د الفبا له تورو وړې وړې کلمې جوړوو، نو دې ته باید پام وکړو. چې دا بوختیاوې یوازې لوبې نه دي، بلکې هره کلمه او هر لفظ د ماشــوم لپاره یوه زده کړه ده. له ماشوم سره لوبې د ماشوم د زده کړې تجربه ډیروي. پر ځان یې متکي کوي او جرأت یې زیاتوي. همداسې ماشوم کولای شي خپلې زده کړې لوبې له خپلو همزلو سره تکرار کړي او په خپله د خپلو زده کړو لوبو پایلې ویني، کیسې اولوبې د ماشوم د ذهن هغه اړتیاوې پوره کوي ، چې د یوه ماشـوم لپاره په ماشـومتوب کې اړین وي. د ماشـومانو اتریشـی اروا پوه پروفیسـور برونو بیتل هایم (( Bettelheim Bruno)) د ماشــومان کیســو ته اړتیا لري )) تر ســرلیک لاندې کتاب کې لیکي ، چې د کیسو په مرسته مور کولای شو ماشوم ته د ژوند مفهوم ورزده کړو ، ماشوم نه شـــي کولای هر هغه څه چې له چاپیریاله په خپل ذهن کې راټولوي د لویانو په څېر په خپل ذهن کې. بېرته پر هغه کار وکړي او د حقیقت او مجاز تر منځ یې توپیر وکړي. همدا لامل ګرځي چې د ماشوم په ذهن کې خالیګاوې پیدا شي ، چې مور همدا خالیګاوې د کیسو په مرسته بیرته ډکولی شو . مور د کیسو په مرسته د څو شـیبو لپاره ماشـوم د کور له چاپیریاله بهر وباسـو او ماشـوم له هغه چاپیریال ســره آشـــنا کوو، چې زمور کیســـه پرې راڅرخي، که هغه د ژویو په هکله وي او که د سپوږمۍ په غیږ کې د ویده شـوي ماشـوم په هکله . ماشـوم د ډیرو کیسـو په اوریدلو سـره په خپل ذهن کې د کیسو پر کرکټرونو کار کوي او د یو ښوونځي په څېر خپل تخیل روزي نو په دې برخه کې ویلی شـو چې کیسې او لوبې د ماشوم او د نړۍ تر منځ د پیژند ګلوۍ تړاو دی )) . ماشـومانو ته د کیســـو لوســـتل او اورول د ژبې په فصـــاحت او بلاغت او د لغاتو په زېرمه کې هم مهمه ونډه لري. د زانګو ماشـوم ته کیســه لولو نو له کوم شـکه پرته په دې پوهیږو چې هغه زمور په خبرو نه پوهیږي ، خو سـره له دې چې د کیسې او د کتاب په مفهوم نه پوهیږي ، د لوسـتلو آهنګ ته غلی وي. وروســته همدا ماشــوم کتاب په لاســونو کې تاووي او خولې ته یې وړي. که چیرې له کتاب سره د ماشوم تړاو پرې نه شي ، نو بې له شـکه چې ماشوم به د وخت په تیریدو سره د کتاب پاڼې

مجلهٔ علمی-تحقیقی پامیر / – دپامیر علمي څېړنیزه مجله - Pamir Academic & Research Journal

واړوي او پر رنګه تصـــویرونو به یې ګوتې کیږدي په کتاب کې به هغه الفاظ تکرار کړي چې له ماشـومتوبه یې اوریدلي او پیژندلي دي لکه : پیشـو ، سـپی ، ماشـوم ، ونه او داسـې نور. ماشـوم د وړکتون دورې ته رسـیږي ، د هغه غوښـتنې بدلیږي ، دکیسـو او د کتابونو تر منځ د خوښـې او نا خوښـې خبرې را پیدا کیږي ، چې دا په هر ماشـوم کې ځان ته ښه لري. له ماشـومانو سـره په ګډه لوستل او د اړتیا په وخت کې د کیسو د کرکټرونو لپاره د اوازونو بدلول د ماشوم لپاره د لوستلو او اوریدلو لړۍ نوره هم په زړه پورې او خوندوره کوي او ماشـوم دې ته هڅوي چې په خپله هم په لوسـتلو پیل وکړي. دا به تر ټولو ډیر اغیزمن وي چې کله ماشـومانو ته کیسـه لولو، د کیسـې پایله پرېږدو چې دوي یې په خپله پوره کړي . په دې عمر کې ماشـومان له لویانو څخه په تقلید داسـې ښیي چې دوی هم لوسـتل کولای شـي. د لویانو په څېر د کتاب پاڼې اړوي او د هغوی په شـان په لوستلو پیل کوي. که څه هم په دې عمر کې ماشومان لوستل نه شي کولای، خو د تقلید په ښه له خپله ذهن کیسه جوړوي. له یاده یې باید ونه باسو چې کله ماشوم موږ ته کیسه لولي نو باید ماشوم ته دا احسـاس ورکړو چې روحاً أو جسـماً له دوی سـره یو او دوي ته مو غوږ نیولی دی. د ماشـوم د پاملرنې، تشـویق او هڅونې لپاره اړینه ده چې د کیسـې په ځینو پېښـو کې د ماشـوم له لوسـتلو سـره سـم مور هم د خپل سر او لاسونو په خوځولو سره ماشوم ته وښیو چې موږ ته د دوی کیسـه په زړه پورې او د پام وړ ده. او په پای کې بیرته د لوبو په ډول د کیسـې پایله له ماشـوم سـره وڅیړو چې یو ماشوم له خپلو همزولو سره په لوبو کې د اوریدل شوې کیسې کرکټرونه وکاروي، دا په دې مانا ده چې هماغه ډول کرکټر د ماشـوم لپاره جالب دی د کیسـې اوریدل د ماشـوم حافظه پیاوړې کوي او هغه کیسـې او کرکترونه چې د ماشـومانو لپاره په ماشـومتوب کې په زړه پورې وي تر ډیره ځنډه په حافظه کې پاتې کېږي . (زغم،۱۳۹۳:)۸۲-۷۹: انسـان چې د لومړي ځل لپاره د کیسـو په راټولو لاس پورې کړ فولکلوري ( ولسي ) کیسې وې دغه د بشر لومړنۍ کیسې وې چې اوس یې هم لږ او ډېر څرک معلومیږي( رشـــیدي،۱۳۹۷: ) ۱۹د ماشـــوم کیســـه، د لیکوالۍ هغه ژانر دی چې لوستونکي یې یوازې ماشومان دي، په دې معنا چې ماشوم د انساني نړۍ ابتدایي او جلا قشر دی، نو مهمه ده چې د دغه قشـــر د درک او پوهې په کچ او د دوی د ادراکي، تخیلي او فکري پیاوړتیا لپاره تر نورو بېل کتابونه او کیسې ولیکل شي .د ماشوم ژبه، فکر، درک او شخصیت د لویانو پرتله په تیټ کچ کې دي، نو ښه دا ده چې لیکوال باید لومړی خپل خان د ماشوم پرځای وومي او بیا ورته کتاب ولیکي.

## د ماشوم لپاره د کیسې لیکلو ارزښت څه دی؟

- ماشوم د لوستلو او لیکلو ژبې سره اشنا کیږي او د لوست قوه یې پیاوړتیا مومي.

• د ماشوم د شخصيت په روزنه او پالنه کې مهم رول لري او همدارنگه فکري او تخيلي استعداد يې لوړيږي.
• ماشوم له همدا اوسه مطالعې سره بلدتيا پيدا کوي او ان عادت يې گرځي، په ټوله کې مهمه دا ده چې د ماشوم په ژبه وي او ماشوم خپل ځان ورسره پردی نه احساسوي..

## د ماشوم لپاره د کيسې ليکلو اساسي ټکي:

• د کيسي عنوان نوم بايد د ماشوم لپاره جالب او جذاب وي، گني هغه يې د لوستلو لپاره لېوالتيا نه ښيي.د بېلگې په ډول مسخره پيشو، اکو بکو، کيک ورک شو، للو للو، مهربانه چرگه او ....
• د متن ژبه بايد د ماشوم د درک او پوهې سره برابره په پام کې ونيول شي او په ټوله کې ساده او روانه وي.
• جملې يې لنډې وي؛ يعني د هغه ماشوم لپاره چې تازه لوستل کوي، جمله بايد له ۵ يا ۶ کلمو اوږده نه وي؛ خو هغوی چې مثلاً په دويم يا دريم ټولگي کې زدکړه کوي، د هغوی لپاره دې جمله تر ۱۲ کلمو اوږده نه شي گنې بيا هم لوستونکی يې له لوستلو پښېمانه کيږي.
• له ليکنښو بايد ډډه وشي؛ خو د اړتيا پر مهال که يوازې ، (. -ننښې وکارول شي باک نلري .له دې هاخوا د نورو نښو په کارولو سره د متن په اړه د ماشوم پوښتنې زياتيږي او کېدای شي د کتاب اصلي محتوا يې له پامه ولويږي.
• د امکان تر حده بايد د ليکلو ژبه د ويلو ژبې ته ورنږدې شي، څو ماشوم يې د پوهېدو لپاره زړه ښه کړي او الفاظ ورته اشنا ښکاره شي.
• له استعارو، مبهمو کلمو او جملو څخه دې ډډه وشي او هغه کلمې يا جملې چې آهنگ او وزن لري )شعر(، کارول يې د توجه جلبولو لپاره ځانگړې ارزښت لري.
• د اړتيا پر مهال طنزي جملې د کيسې جذابيت پياوړی کوي او کله کله ان ځينې د ماشومانو پر خوله خندا راولي، چې دا کار هم پر خپل ځای مهم دی.
• په معاصره ژبه دې وليکل شي .په دې معنا چې د پخوانيو زړو او سوچه اصطلاحاتو کارول د کيسې ژبه سختوي او ماشوم ته د کيسې په لړ کې سختې او بې مورده پوښتنې ور پيدا کوي چې بايد ډډه ترې وشي.
• دغه راز پردي نااشنا نوي اصطلاحات او الفاظ هم بايد ونه کارول شي.
• د کيسې د متن په لړ کې ځينې انځورونو ته ځای ورکول، د ماشوم توجه جلبوي او د متن لوستلو لپاره تلوسه ايجادوي.

Pamir Academic & Research Journal - مجلهٔ علمی-تحقیقی پامیر / - دپامیر علمی څېړنیزه مجله

- د لمنلیک موضـــوع هم اړینه ده چې باید یاده شـــي؛ لومړی خو باید الفاظ او نومونه د اړوندو ماشومانو له پوهې سره خورا برابر او اسانه وي؛ خو که چېرته اړتیا پیښه شوه بیا هم لمنلیک پکار نه دی، بلکې د سختو کلمو یا نومونو معنا دې هملته په قوس کې جوخته ورسره ولیکل شي.
- تر وسې باید تراژیدیکو پېښو ته ځای ورنکړل شي.
- د کیسې کرکټر /کرکټران هر څوک یا هر څه ټاکل کیدای شي.مهمه دا ده چې ماشوم ته په زړه پورې وي.
- ښه ده چې په هره پاڼه کې د کرښو شمېر له لسو لوړ نه شي، امکان لري د کرښو زیاتوالی د ماشوم لېوالتیا او حوصله کمه کړي .
- په ټوله کې باید د کتاب حجم مناسب وي؛ ځکه چې ماشوم هومره صبر نه شي کولای، لکه یو لوی سړی یې چې د یو ناول لوستلو لپاره کوي.
- د کتاب پوښـــتنې، انځورونه، کاغذ په متن کې د تورو اندازه او ډول فونت(،ډیزاین او نور مهم رول لري چې باید د ماشوم د خوښې او لېوالتیا له مخې په پام کې ونیول شي.

## د ماشوم لپاره انځوریزه کیسه یا انځوریز کتاب

د کیسې دا ډول د هر ماشوم لپاره خورا په زړه پورې او جالب وي؛ خو د هغه ماشوم لپاره چې تازه یې لوستل پیل کړي وي یا د الفبا زده کولو پړاو ته ننوتی وي، زیات ګټور دی؛ ځکه چې ماشوم له کتاب سره نوی اشـنا کیږي او په کار ده چې د دغې اشـنایي پیلامه له جذابیت څخه مالامال وي.په ټوله کې انځوریز کتاب ماشـــوم ته خوند ورکوي؛ خو دا چې په کوم ډول کتاب کې څه ډول انځور راوړل شي په لنډو یې لاندې روښانه کوو:

- په انځوریزه کیســـه کې باید انځورونه ژوندي روان وي؛ یعنې د کیســـې په هر پړاو کې باید د انځور انځورونو حالت د پېښـې او موقعیت په اســاس بدلون ومومي او ټول جریان په منطقي توګه تر پایه بدرګه کړي.د لوبو شیان انځورول او په مرسته یې بیا د یوې لوبې کیسه بیانول به، خورا په زړه پورې وي.
- د کارټونیکو انځورونو رول هم د ماشوم په لېوالتیا زیاتولو کې ډېر مهم دی.

## د انځوریزې کیسې ګټې:

- ماشوم داسې احساسوي چې ګوندې کیسه په ژوندۍ بڼهویني.
- ماشوم په یو ډول د کیسې توکي د لمس وړ ګڼي او د همدغه احساس له مخې ځان د کیسې په محتوا کې دننه مومي.
- .د ماشوم په خیال کې د انځور کارېلو قوه پیاوړې کیږي.

- د نورو کیسو په پرتله ماشوم له انځوریزې کیسې سره زیاته لېوالتیا ښیي. (ممتاز،۱۳۹۸: )۷۵-۷۱-

## ماشومان کیسه غواړي؛ کیسه تلوسه غواړي

تلوسه د ماشومانو په کیسو کې ډېر اهمیت لري دومره ارزښت لري چې ګڼ کره کتونکي په دې باور دي چې د کیسو د کتاب پوښ ماشوم ته تلوسه پیدا کړي بیا د کیسې سرلیک ته و هڅېږی او لومړی صفحه یې جذاب کړي، که په کیسه کې تلوسه نه وي نو کیدای شي چې ماشوم به یې و نه لولي، ځکه چې د کوچنیانو زړه زر تنګېږي، زغم یې لږ دی، که د کوچني کوم کتاب خوښ نه شي، نو وار له واره هم بیا یی هغه ایسته او پاڼې یی شکوي او یا یې له سترګو پناه کړي نن سبا تلویزیونونه په افغانستان کې زیات شوي دي محدود شمیر ماشومانو ته د انترنټ اسانتیاوې شته که تلویزیون نه وي انترنت وي، د اوبو شیان نه وي بیا هم د ماشومانو خپل منځني لوبې نه وی چې هغو ته شا کړي او کیسه ولولي د دې لپاره باید به کیسه کې دومره تلوسه وي چې ماشوم که هر وخت له نورو لوبو لاس نه اخلي یو نیم ځل خو کیسي ته هم پلتی ووهي د ماشومانو په کیسو کې د تلوسې د موندلو لپاره کره کتونکي یولړ وړاندیزونه لري کیدای شي چې کیسه په یوه سوال پیل شي مثلا تا بیزو ولیده بیزو ویده ده؟ دویم داچې مورږ د ماشومانو د لوبو په مرسته په کیسه کې تلوسه پیدا کړو ، مثلا ولیکو، زلمي خوسی کاوه. پښه یې وینې شوه موضوع د ماشوم نړی ته یوسو. درېیم داچې کیدای شي خارق العاده پیښې په کیسو کې ځای کړو. څلورم دا چې د بوټو را نیول، د کاڼي او نورو جامد و شیانو سوال ځواب هغه څه دي چې کوچنیان خوند ترې اخلي.( پسرلی، ۱۳۹۰: )۱۹-۱۷-

## شعر او کیسه پر ماشومانو دوه اړخیزې اغېزې لري

۱ـــ ښوونیزې اغیزې: ډیری خلک داسې فکر کوي چې شعر او کیسه د ماشومانو وخت ضایع کوي او د هغوي دښوونځي د لوست مخنیوی کوي، یعنې دوی داسې وایي چې د دې پرځای چې ماشومان کیسو لوستلو ته هڅوو، نو ولې یې د ښوونځي درسونو ته نه هڅوو. خو خبره داسې نه ده همدا کیسې او شعر دماشومانو سره د هغو په ښوونیز اړخ کې هم ډیره مرسته کوي دا سمه ده چې د ماشوم اصلي دنده سبق ده، خو یوازې سبق ماشوم ستړی کوي او د هغه زړه له زده کړې توروي.

۲ ـ د لوست د مهارت پیاوړتیا: دا یوه جوته خبره ده چې هر څه په تمرین سره پرمختګ کوي نو هر کله چې ماشومان د شعر یا کیسو کتابونه لولي هغوي د بېلا بېلو جملو او کلمو سره مخامخ کیږي او هغه لولي. کیدای شي چې داسې کلمې هم وي چې د هغو لوستل د ماشومانو لپاره ډیر ستونزمن وي.خو په بیا بیا لوستلو سره دهغو ژبه د داسې کلمو د تلفظ سره بلدیږي او ژبه یې

پرې اوړي. همدارنگه دکیسو او شعرونو د کتابونو په لوستلو سره ماشومان پدې پوهیږي چې کوم ځای باید جمله پای ته ورسي، دلیک نښې نښانې وپېژني، د هغو په ګټو پوه شي او په راتلونکې " لیکنو کې استعمال کړي.

۳ـ د لیک د مهارت پیاوړتیا : پر ماشومانو دکیسو او شعرونو یوه بله ښوونیزه اغېزه دا ده چې د هغو دلیکلو مهارت پیاوړی کیږي. لکه څنگه چې لیک یو انځور دی نو کله چې ماشـومان دکیسـو او یا شعرونو کتابونه لولي دا انځورونه یې په ذهن کې پاتې کیږي او بیا کله چې دوي د دي توان پیدا کوي چې یو څه ولیکي، نو له هماغه انځورونو چې د دوي په ذهن کې پاتې دي ګټه اخلي او هره کلمه څنگه چې لیکل کیږي لیکي. د لیک په مهارت د کیسو او شعرونو بله اغیزه دا ده چې موږ د یو سـتر مفهوم د بیانولو لپاره ډیرې لنډې خورې او مناسـبې کلمې پیژنو او کولای شـو چې ډیر مطالب په لنډو جملو کې ډېر خوندور بیان کړو.

۴ـــ په جملو کې دکلمو دځای پیژندل: ماشومان دکیسو او شعرونو به لوستلو سره په دې پوهیږي چې کومه کلمه کله او په کوم ځای کې په جمله کې راوړل شـي، کلمې څنگه سـره وگنډل شـي ترڅو خپل مطلب پوره ورسوي او جمله پر لوستونکي ذهني بوج رانه ولي.

۵ - د لغتونو د زیرمې پراختیا :دکیسو او شعرونو پر مهال موږ د ډیرو کلمو سره مخامخ کیږو چې پخوا مو لیدلې هم نه وي کله چې ماشومان هم کیسې او شعرونه لولي نو د ډیرو داسې لغتونو سره مخامخ کیږي چې پخوا یې نه وو زده او د کوم مشـر څخه د پوښـتنې په واسـطه یې اوس په مانا وپوهیدل خو هو باید د ماشومانو په کیسو او شعرونو کې ډېر مغلق لغتونه ونه کارول شي او یا هم داسې نه چې د یو عام لغت پرځای یو نه استعمالیدونکی لغت وکارول شي.

## پر ماشومانو دکیسې او شعر رواني، فکري او ټولنیزې آغېزې

۱ - کیسه لوستل له ماشومانو سره مرسته کوي، چې د امن او مصونیت احساس وکړي په ځانګړي ډول کله چې ناوړه اشـخاص ماته وخوري او دسـتونزو لپاره دحل غوره لارې او شـرایط پیدا شـي. کله چې ماشــومان کیســه لولي نو ځان ته د اتل په ایینه کې ګوري نو په کیســه دکیســې اتل ته د ســتونزو د حل غوره لارې پیدا شــي او د کیســې ناوړه اشـخاص دخپل جرم په ســزا ورســي دلته ماشومان د ژوند لپاره هیله مند کیږي او د امنیت احساس پیدا کوي.

۲ - کوچنیان له کرکټرونو څخه په ګټې اخیسـتنې سـره ځینې داسـې مسـایل پیژني چې هغوی ته پیاوړی حس وربښـي لکه زړورتیا، کوښـښ ...) کله چې ماشـومان په یوه کیسـه کې لولي چې د کیسې اتل له ډیرو کوښښو وروسته خپلې موخې ته رسي او یا له ډیرې زړورتیا له امله خپل مقصد ته رسیږي نو دلته ماشومانو ته هم داسې حس پیدا کیږي چې په ژوند کې هر څه ممکن دي خو د هغو لپاره څه کول پکار دي.

۳ - ماشـومان کولای شـي بې له دې چې ځان څرګند کړي په یوه کیسه یا شـعر کې خپل احساسات بیانولای شي. ځینې وخت د ماشومانو په زړونو کې ځینې داسې مسایل وي چې د هغو په بیانولو شرمیږي یا ویریږي که ماشومان د کیسې یا شعر لیکلو غښتلتیا ولري کولای شي خپل احساسات په ډېر ښه ډول په خپله کیسه یا شعر کې بیان کړي.

۴- شعر او کیسه لیکنه د ماشومانو ابتکار او نوښت هڅوی کله چې ماشوم د دې پیاوړتیا پیدا کړي چې یوه کیسه یا شعر ولیکلی شي نو د ماشومانو هغه پټ نوښت او ابتکار چې په هغو کې پروت دی، رابرسیره کیږي او د هغو د نوښت لپاره د پرمختک لاره پرانیستل کیږی .

۵ - دکیسې او شعر لوستل او لیکل د ماشومانو ټولنیزو اړیکو ته پراختیا وربښي او هغوی له ټولنیزو اصولو او قوانینو سره آشنا کوي. کله چې ماشومان کیسه لولي نو هغو له ډیرو داسې ټولنیزو اصولو، قواعدو او دودونو سره مخامخ کیږي چې په ټولنه کې شتون لري او هغو ته پاملرنه د یو ټولنیز شخص په توګه اړینه ده نو مخ کې له دې چې ماشومان په ټولنه ورګډ شي دټولنې اصول زده کوي

٦ - کیسه او شعر لوستل یا لیکل ماشوم فکر کولو ته هڅوي، دلته دی چې ماشوم هغه څه درک کوي چې پخوا ورسره آشنا نه و. کله چې موږ یو څه لولو یا یې لیکو نو ضرور به د هغو په اړه یو څه فکر کوو، ترڅو د لوستل شوې جملې مانا درک کړو یا که څه لیکو نو مخکې له دې چې ویې لیکو نو لومړی باید د هغې په اړه فکر وکړو ترڅو سم او مناسب راشي. ماشوم هم کله چې څه لولي نو د هغې په اړه فکر کوي ترڅو د هغې اصلي مانا درک کړي دلته د ماشوم د تفکر قوه پیاوړې کیږي او د ژوند په هر ډګر کې کولای شي د مسایلو په اړه ښه فکر وکړي.

۷- دکیسې یا شعر لیکلو پر مهال ماشوم ځان د شخصیتونو په قالب کې احساسوي او د هغه دعزم قوه پیاوړې کیږي. کله چې ماشوم په دې توانیږي چې څه ولیکي نو د خپل ځان د پیاوړتیا او غښتلتیا احساس ورته پیدا کیږي ځان ورته دټولنې دکامیابو اشخاصو په کتار کی معلومیږي، هغه دا احساس پیدا کوي چې دی هم کولای شي د نورو کامیابو وګړو په څېر خپل مقصد او مرام ته ورسیږي. دا یو څرګند حقیقت دی هر څه چې مثبت اړخ لري منفي هم لري کیسه او شعر برسیره پردې چې پورته مثبتې اغیزي لري، خو له ځانه سره به څه منفي اغېزې هم لري. ( شینواري، ۱۳۸۷: ۷۷ـ۷۸ )

## پایله

کیسې دانسانانو د پیدایښت سره یو ځای پیل شوي دی لومړنی کیسې فولکوریکې وي ،د ماشومانو کیسې ، پرماشومانو د کیسو اغېزه له کوچنیوالي څخه د ماشومانو د کیسې لوستل او اورېدل د ماشوم په وده او حتی د ښوونې او روزنې په راتلونکې او د یوه بریالي زده کوونکي په لرلو مثبت اغېز لري، د ماشوم په ښوونه او روزنه کې د کیسو اغېزې، او د کیسو مختلف اړخونه لکه ښوونیز ،

مجلهٔ علمی-تحقیقی پامیر / - دپامیر علمی څېړنیزه مجله - Pamir Academic & Research Journal

فرهنګي ، ملي ، اخلاقي اړخونه بیان شوي دی لکه څرنګه چې ماشومان او ځوانان د یو هېواد د راتونکي لپاره د بنسټ ډېره ده نو ډېر کار ورته اړین دی چې باید ورته وشي په ځانګړي ډول د شعر ، کیسې یا نورو ښوونېز اړخونو کې د کیسو په لیکلو باید د ماشومانو عمر ، غوښتنې ، عاطفي ، مذهبي، د اخلاقی ، تربیتي ، اړخونه په پام کې ونیول شي نو ماشوم به له ډارشوي، اندیښمن، کرکجن ، کینه کښ او داسې نور ماشومانو لپاره چې له نورو ځان ګوښه ساتي ښه درمل دي.

## وړاندیزونه

۱. د ماشوم ادبیاتو ته دې په نورو برخو کې هم زیات کار وشي .

۲. د ماشومانو لپاره له نورو ژبو څخه اثار را وژباړل شی.

۳. ماشومانو ته چې کوم کتابونه لیکل کیږي د دوي عمر د هم په نظر کې ونیول شي

## اخځليکونه

احمدي، شاکري.(۱۳۹۵هـ ش).په اسلام کې د اولاد روزنه.کابل . مستقبل خپرندويه ټولنه
احمدي، ګل آغا (۱۳۸۸هـ ش). له کيسو اوريدلو سره مينه او علاقه . مصورمجله .لومړي کال
څلورمه ګڼه.
پسرلي، اجمل.(۱۳۹۰هـ ش) ماشومانو ته د کيسو ليکلو چل . کابل . مصور بنسټ .
درمل ، حسن خان (۱۳۹۵هـ ش). د تدريس اصول او ميتود. کندهار. عرفان خپرندويه ټولنه .
ذکي ، نصيب الله . (۱۳۹۴هـ ش). تربيتي ارواپوهنه. ننګرهار. زيار خپرندويه ټولنه
رشيدي، جمشيد خان.(۱۳۹۷هـ ش) ادب تيوری. کابل. نويسا خپرندويه ټولنه .
زغم، محب الله ، روهي، اناهيتا،غني،نعيمه(۱۳۹۳هـ ش).يوماشوم يوه نړۍ. کابل . مصوربنسټ
شينواري، حسيب الله (۱۳۸۷هـ ش).په ماشومانو دشعراوکيسې اغېزې.مصورمجله .لومړي کال.
لومړي ګڼه.
ليوال،عبدالغفور. (۱۳۸۱هـ ش).د ماشومانولپاره کيسې او بوختياوې.اريک ګرځنده کتابتونونو
اداره
ممتاز ، عبدالجميل (۱۳۹۸) څنګه ليکوال شم . نوي مستقبل حپرندويه ټولنه